SHARIAT WEEKLY
شریعت
اوونیزه
په اوونۍ کې دوه ځله خپرېږي
دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان
دریم کال شپږ دیرشمه گڼه پرله پسې (۱۳٦) چهارشنبه د۱٤۱۹هق کال دصفرالمظفر (۱٦)د۱۳۷۷ هـ ش کال د غبرگولي دمیاشتې (۲۰) د۱۹۹۸میلادي کال جون (۱۰)

الهي فرمان

عدل (انصاف) وکړئ تاسي ! ، همدا (عدل) ډیر نږدي دی تقوا(پرهیزگاری) ته .

(سورة المائدة)

هجده تن ماهران نظامي روسي وارد پنجشیر گردیدند

ماهران نظامي روسي قرار است معاهده نظامي را با سران ائتلاف شمال به امضا برسانند

هجده تن از ماهران نظامي روسي اخیراً از طریق کولاب تاجکستان وارد پنجشیر گردیده و قرار است معاهده، نظامي را با سران ائتلاف بدنام شمال به امضا رساند .

روزنامه وحدت چاپ پاکستان ضمن افشاء این مطلب گفته است، ماهران نظامي روسي بعد از تشکیل جلسه در کولاب تاجکستان که جنرالان ارشد نظامي نیز در آن شرکت نموده بودند اخیراً وارد پنجشیر گردیده‌اند.

ماهران نظامي روسي ضمن ارتباطات نزدیك و مستقیم با مسعود و داکتر عبدالله قرار است معاهده نظامي را با سران ائتلاف شمال به امضا رسانند.

به گفته این روز نامه روسیه یك تعداد هلیکوپتر ها را در خدمت مسعود قرار داده و قرار است در اینده نزدیك تعدادي از هلیکوپتر هاي دیگر نیز در اختیار مسعود قرار گیرد.

روزنامه وحدت میگوید احتمال میرود ماهرین نظامي روسي یکمقدار سلاح را با خود نیز به پنجشیر انتقال داده باشند.

ارتباط نزدیك و مستقیم مسعود و گروه نظار وي با قواي چهل روسها در دوران جهاد مقدس و پیوند هاي نزدیك وي با گرو هاي چپ افراطي با بقاياي رژیم کمونیستي در افغانستان به وضاحت بیانگر این واقعیت است ص،٤،

پیرامون زندگینامه و آثار شعري مولانا جلال الدین محمد بلخي سیمینارعلمي، تحقیق از جانب شوراي فرهنگي پوهنتون کابل دایر گردید

پیرامون زندگینامه و آثار شعري مولانا جلال الدین محمد بلخي سیمینارعلمي، تحقیق از جانب شوراي فرهنگي پوهنتون کابل دایر گردید .

خبرنگار هفته نامه شریعت از جریان سیمینار متذکره گزارش داد : به ابتکار و اهتمام شوراي فرهنگي پوهنتون کابل، قبل از ظهر سه شنبه پانزدهم صفر المظفر مطابق نوزدهم جوزا سال ۱۳۷۷ هـ ش پیرامون شخصیت، زندگینامه و آثار شعري شاعر بزرگ و صوفي وارسته علامه جلال الدین محمد بلخي در سالون کتابخانه آن پوهنتون دایر گردیده بود

در آغاز بعد از آنکه آیات چند از کلام الله مجید قرائت گردید کار سیمینار را محترم مولوي پیر محمد روحاني رئیس پوهنتون کابل با سخنراني مختصر خویش افتتاح نمود ، سپس پیام اداره شعر و ادب ص،٤،

قرار داد پروژه جدید هوانوردي به امضا رسید

قرار داد پروژه جدید ریاست عمومي هوانوردي ملکي و توریزم و نماینده‌تأسیسات‌زیربنایي‌اسیاپاسفیك‌بامضارسید.

اژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد ریاست عمومي هوانوردي ملکي توریزم در تداوم باز سازي و احیاي پروژه هاي اقتصادي و صنعتي پروژه جدید هوانوردي را به خاطر خدمات بهتر در عرصه هاي مالي و بین المللي بعد از اخذ منظوري مقامات امارت اسلامي افغانستان به کار انداخته که قرار داد پروژه متذکره بین ریاست عمومي هوانوردي و ملکي و نمایندگي تاسیسات زیر بنایي اسیا پاسفیك به امضا رسید .

با به کار افتادن این پروژه حد اعظم مشکلات ولایت کشور از ناحیه خرابي سیستم هاي مخابراتي ؛ ص،٤،

د اسلامي اردو اتل سپاه سالار او د مرکزي قول اردو قوماندان محترم ملا داد الله اخند له شریعت اوونیزې سره په مرکه کې :

ولس به په پنجشیر کې ډیر ژر د یو لوی بدلون زیری واوري

ټولو مخلصو او مؤمنو صاحب منصبانو ته بلنه ورکوو چې خپل وطن ته د خدمت لپاره راستانه شي

د تخار، بدخشان او بغلان د بشپړ سقوط شیبې ډیرې رانږدې شوې دي

یوازې جهاد د هر رنځ درمل دی

د هیواد په هر هوایي ډگر کې الوت ته چمتو جنگي الوتکي لرو او اته وزره نوي . جنگي الوتکي مو همدا اوس پیرلي دي

د فني کدرونو د روزني لپاره مو هوایي پوهنتون، حربي پوهنتون ، حربي ښوونځي او تخنیك اکاډمي فعال کړيدي

په هر ولایت کې دیني مدارس چې زر تنه طالبان په کې په وسلو سمبال دي د منتظره قطعي په شکل شپه او ورځ اوسیږي

درنو او محترمو لوستونکو !

زموږ خبریال د اسلامي اردو د اتل لاربڼود جهادي شخصیت او په دښمن باندي د ناڅاپي تندر، د مرکزي قول اردو قوماندان محترم ملا داد الله اخند سره د ده په استوگنځي کې مرکه کړیده چې لوستلو ته یې ستاسو پام را اړوو.

پوښتنه : په شمال کې د جگړې د لومړیو کرښو په هکله معلومات راکړې ؟

ځواب : په شمال کې د اسلامي اردو مجاهدین عالي مورال او لوړه جنگي روحیه لري او په دښمن د ورووستي گوذار لپاره هره شیبه د اسلامي امارت د مشرانو قوماندي ته منتظر دي. اوس د تخار د بنگي په استقامت د جگړې لومړۍ کرښه دا حین زیو په سیمه کې ده زموږ پوستي په دي سیمه کې په استراتیژیکي او حاکمو نقطو کې ځاي پر ځاي شویدي چې بیا د تالقانو تر ښاره بله داسي حاکمه نقطه نشته ده . زموږ مهم بریالیتوب د اشکمش د استراتیژیکي ولسوالي فتح ده چې د دي ولسوالي په فتحي سره د دښمن تولي اکمالاتي لارې بندي شویدي اوس د معسعود هغه ځواکونه چې په پنجشیر کي میشته دي له یوه ډول محاصري سره مخ دي ځکه چې د دي ولسوالي په فتحي سره د تخار پنجشیر، بدخشان - پنجشیر او بدخشان تخار تر منځ لاري ټولي زموږ د ځواکونو په محاصره کي دي اوس د تخار ، بدخشان او بغلان د بشپړ سقوط شیبي ډیري رانږدې دي.

پوښتنه : د شمال د ولسي خلکو غبرگون ستاسو د سوبو په اړه څه دولوو ؟

ځواب : الحمد لله د شمال شریف او مسلمان ولس هم د نور افغانستان د اوسیدونکو په څیر زموږ ځلورم مخ

د کابل سروبي د لارې په اوږدو کې د بریښنا د ستنو له شاوخوا ځخه د ماینونو د پاکولو کار په بیړه روان دی

له سروبي نه تر بتخاك پوري د بریښنا د ستنو د بیا احیا کولو په غرض د راتلونکو فعالیتونو لپاره ښه زمینه برابریږي .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د اوبو او بریښنا وزارت سرپرست محترم ملا محمد عیسي اخند او ملگري هیأت یي په دي وروستیو کي د سروبي او بتخاك د لارې په اوږدوکي د اي .تي. سي. موسسي د ماین پاکوني د تیمونو د کار او فعالیت بهیر وکوت او ددغي موسسي د ماین پاکوونکو د کار او فعالیت له امله د رضایت د څرگندونو په ترڅ کي یي له ماینونو او ناچاودلو مهماتونه په دي ساحه کي د بریښنا د ستنو د شاوخوا سیمو د پاکوني په کار کي د فعالیت درناوي وکړ .

په مقابل کي په کابل کي د اي. تي. سي د ماین پاکوني د دفتر استازي محترم الحاج عین الله او په کابل کي د یونیچا د ماین پاکوني د دفتر استازي ښاغلي تحسین دیسبورگ ژمنه وکړه چې ډیر ژر د ځلورم مخ

د پلازا د ځلور لاري ترافیکي زیگنالونه بیا فعال شول

د پلازا د ځلور لارې ترافیکي زیگنالونه بیا فعال او د استفادي وړ وگرځېدل.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ دغه زیگنالونه چې دتېر رژیم د جگړو له امله بیخي له فعالیت نه لویدلي و د کابل د ترافیکو د عمومي ریاست د کارمندانو د هلو ځلو له امله له محدودو امکاناتو او وسایلو نه په استفادي سره بیا فعال شول.

د پلازا د ځلور لارې د زیگنالونو له فعالیدو سره د ښاري ترافیکو د ښه والي په کار کي زیاتي اسانتیاوي برابري شویدي.

د کابل ښار د نورو ځلور لارو د زیگنالونو د بیا جوړوني کار دوام لري.

د بریښنا دري سوه غلا شوي میټرونه تر لاسه شول

د بریښنا دري سوه غلا شوي میټرونه د وروستیو دوو ورځو په بهیر کي د کابل ښار نه تر لاسه شویدي.

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ د کابل د بریښنا ریاست د څارني او کنټرول ډلي د وروستیو دوو ورځو په بهیر کي د کابل ښار په بیلا بیلو ناحیو کي د برقي سامان الاتو د خرڅلاو د کانونه وکتل او د بریښنا دري سوه میټرونه یي چې مخکي غلا شوي و او په غیر قانوني ډول د خرڅلاو په خاطر بازار ته وړاندي شوي و تر لاسه کړل. دا ددي په خاطر چې په بیت المال باندي خیټه اچول حرام دي او په مغو کي هیڅ ډول راکړې ورکړې مجاز نه دي.

د بانکداري پراختیایي کورس پرانستل شو

د بانکداري پراختیایي کورس د یوې غونډي په ترڅ کي د افغانستان بانك په ریاست کي پرانستل شو .

د باختر اطلاعاتي آژانس خبر راکړ په هغې غونډه کي چې له همدي امله د افغانستان بانك د ریاست په مقر کي جوړه شوي وه له هغه وروسته چي د کلام الله مجید څو ایتونه ولوستل شول د افغانستان بانك دویم مرستیال محترم ملا سید محمود الله ددغه راز کورسونو د جوړیدلو د ارزښت او په بانکي چارو کي د اسلامي امارت د مقام د خاصي پاملرني په باب خبري اتري وکړي .

وروسته د صادراتو د پراختیا بانك رئیس محترم مولوي محمد یونس زرغون، د افغانستان بانك د تدقیق او مطالعاتو عمومي امر محترم طالب العلم رحمت الله رحمت الوزي د موضوع په باب خبري وکړي .

وروسته کورس د افغانستان بانك د دویم مرستیال محترم ملا سید ځلورم مخ

سرمقاله



دلوي خداي (ج) په نامه

الا کُلکُم راعٍ و کُلکُم مسؤل ... ؟

د افغانستان د اسلامي امارت مشران او کشران له کومي ورځي نه چې د فتنو او فسادونو په ورك کولو پسي د طالبانو د اسلامي تحریك تر سیپڅلي نوم لاندي دوم ځل راپورته شوي دي د مسوولیت احساس کلك ورسره ملگري دي ، هم د الله تعالی په وړاندي ځانونه مسؤل گڼي او هم د خپلو مجاهدو او دیندارو هیوادوالو په وړاندي ؛

ددغه احساس د حساس او پیاوړي ساتلو لپاره د اسلامي امارت خداي ترسه او محترم مشران تل په دي هڅه او لته کي دي چې دغه نیك احساس د اسلامي امارت د سنگرونو او دفترونو د طالبانو او مجاهدینو په زړونو کي کمزوري یا ویده نه شي چې په هغه صورت کي ډیري خرابیتیاوي ورڅخه راولاړیداي شي، نو ځکه تل د نصیحت او فکري روزني او سمون په لټه او هڅوکي دي؛

د تیري دوشنبي په ورځ چې د ۱٤۱۹ قمري کال د صفر المظفر څوارلسمه او د ۱۳۷۷ ش کال د غبرگولي اتلسمه وه د کورنیو چارو وزارت په لوي تالار کي د همدغه مطلب لپاره واړه او غټ مسؤلین راغوند کړاي شوي وو او د اسلامي امارت مشرانو، علماوو کرامو او پوهانو په زړه پوري، په اثر ناك ډول او له ارزښتونو ډك مطالب ورواورول او په زړونو کي یي ورکینول؛

د خطاب مرکزي توري : تقوي ، اخلاص، له امانتونو سره احتیاط، له هیوادوالو سره ښه رویه او پیغمبري اخلاق (علیهٔ الصلوة والسلام)، دوهم مخ

د تیرینکوټ ښار د امارتي تاسیساتو د بیا جوړوني کار پیل شو

د هیواد د عام المنفعه تاسیساتو د بیا جوړوني په لړ کي د ارزگان ولایت د مرکز تیرین کوټ ښار د امارتي تاسیساتو د بیا جوړوني کار پیل شو.

د تیرینکوټ له ښار نه د باختر د اطلاعاتي آژانس د خبریال د خبر له مخي په هیواد کي د امنیت په ټینگښت او د بیا د جوړوني د کار د زمینو په برابریدو سره د تیرینکوټ ښار دا مارتي ودانیو او تاسیساتو د بیا جوړوني کار چې د تیرو رژیمونو د ښنتو له امله ویجاړ او زیانمن شوي و د یو لړ مراسمو په ترڅ کي پیل شو . په دغو مراسمو ځلورم مخ

تیم فتبال «پیمان» حایز مقام قهرماني گردید

در دور فاینل مسابقات فوتبال گروپ بي تیم فوتبال پیمان حایز مقام قهرماني‌شناختشد.

آژانس اطلاعاتي باختر خبر میدهد : در این مسابقات که بین ٤۹ تیم فوتبال از طرف ریاست تربیت بدني و سپورت در استدیوم ورزشي کابل راه اندازي گردیده بود تیم فوتبال پیمان با گرفتن پنج امتیازحایز مقام اول و برنده کپ قهرماني و تیم فوتبال شعاع با گرفتن ۳ امتیاز حایز مقام دومي و برنده کپ دومي شناخته شد.

در اخیر مسابقات تحسین نامه ها و تحایف براي ورزشکاران برنده توزیع گردید.

همچنان در مسابقات فوتبال که ځلورم مخ

جلسه مسؤولین اطاقهاي تجارت و صنایع و تجار ملي دایر گردید

امارت اسلامي افغانستان همه تسهیلات لازم اموال تجارتي را براي تجار ملي فراهم نموده است .

خبرنگار آژانس اطلاعاتي باختر از قول یك منبع مسوول اتاقهاي تجارت و صنایع گزارش میدهد این مطلب در جلسه که به اشتراك مسوولین ارگانهاي ذیربط امارت اسلامي و تجار ملي اخیراً در مقر اتاقهاي تجارت و صنایع دایر گردید در جلسه ص،٤،

سرقت راز هاي هستوي هند توسط کمپیوتر

واشنگتن : آژانس خبري اي ابن ابن گزارش داده است که سه نو جوان امریکایي توسط کمپیوتر تمام راز هاي هستوي هندوستان و برنامه هاي آینده آن را سرقت نموده و هدف آینده خود پاکستان را قرار داده است. یك مجله، امریکایي در یك گزارش خود ادعا کرده است، که سه نفر از نوجوانان کم عمر امریکایي توانستند، راز هاي اتومي هند را به سرقت ببرند و حال نوبت پاکستان است.

یکتن از مبصرین نظامي گفته است که این خبر یکي از جمله هزاران افواهات امریکاست که مي خواهد کشور هاي جهان را از لحاظ رواني تحت تسلط داشته باشد که در حقیقت امر از دروغي بیش نیست.

شريعت

د تاسيس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د ليکوال هيئت ترنظر لاندي
مسؤول مدير : الحاج مولوي عبد الرحمن احمد «هوتك»
مرستيال : ملا أسد الله «حنيفي»
ديوي ګڼې بيه : په هيواد کي (۱۰۰۰) افغاني په پاکستان کي (۳) کلداري
پوست بکس : (٤٧١) ټيلفون: ۲۰۰۷٥
په پيښور کي : د طالبانو نمايندګۍ ټيلفون: ۸٤٤٣٣١-۸۱۸۱٥۷-۸۱٥٦۲۷
جاري حساب : $\frac{٤-٣٨٥}{٧}$ د افغانستان بانك مركز
چاپ : دولتي مطبعه

د سرمقالي پاتې برخه

په کافرانو باندي سختي او په خپل منځ کي خواخوږي اوداسي نورمفاهيم وو؛

اساسي او اصلي خبره تقوي او پرهيزګاري ده ځکه چي تقوي د ټولو ښيګڼو او حسناتو بنسټ دي، د تقوي معنا ځان ساتنه ده خو ځان ساتنه عادتاً د ويري په وخت کي وي او ويره ورسره لازمه ده، له دي امله د تقوي معنا په ويره سره کيږي، د هر چا په زړه کي چي د الله تعالي د عذاب او نيولو ويره وي هغه د الله تعالي د عقاب او عذاب له سببه نو ځخه ځان ژغوري، تل د الله تعالي د امر له تقاضا او غوښتني سره سم رفتار کوي، له منع شويو کارونو (منهياتو) نه لري ګرزي، بنده هغه وخت اخلاص هم پيدا کولي شي، ښه اخلاق، نيکه رويه، په خپل منځ کي مينه او ورورولي، له کافرانو ځخه کرکه او نفرت، له امانتونو سره احتياط او پرهيزګاري ميندلي شي، له بندګانو سره د الله تعالي امانتونه بيخي ډير دي، د بدن غړي د الله تعالي امانت دي چي په شرعي لاره استعمال شي، اهل او اولاد د الله تعالي امانت دي چي حلاله روزي ورباندي وخوړله شي، په شرعي لاره وروزل شي او له دوزخ نه وژغورل شي، د الله د شريعت احكام، د بنده ګانو حقونه، د ګاونډيانو حقونه، د خپل ځان روحي او بدني حقونه او داسي نور؛ دا واړه له بنده ګانو سره د الله تعالي امانتونه دي چي ساتنه غواړي، كه ساتنه يي و نه شي الله تعالي له بنده نه كلكه پوښتنه كوي، هغه په داسي وخت كي كوي چي بنده د تيښتي لوري نه لري يعني په قبر كي يا له بيرته راژوندي كولو نه وروسته د قيامت په لويه او هولناكه ورځ كي؛

نن سبا تر ټولو ستر او ارزښتناك امانت چي د افغانستان د اسلامي امارت د ټولو مسؤولينو په غاړه پروت دي هغه ددغه مقدس شريعت د نفاذ او اسلامي نظام د ټينګولو امانت دي، د فتنو په اوسني وخت كي ددغه مقدس نظام قيام چي د لكونو بلكي مليونونو شهيدو او معلولو مؤمنو او ميړنيو مجاهدينو كرامو د سرونو او وينو د قربانيو په بيه منځ ته راغلي دي او په اوسني نړي كي يي ساري نشته دي؛

ددغه مقدس امانت په هكله د اسلامي امارت د مسؤولينو ادني بي پروايي د ګناهونو او وبالونو انبارونه جوړوي، دا ځكه چي د الله تعالي شريعت د انساني تاريخ په اوږدو كي د دښمنانو لرلي دي او دحق او باطل مبارزه روانه ده مګر په اوس حساس وخت كي د مقدس شريعت دښمنان هم د نړي كافران او هم مسلمان فاسقان دي؛

تاسي پوهيږي چي د اوس وخت كافران د كمپيوټر، ليزر وړانګو او اتوم په ژبه خبري كوي او مسلمان فاسقان د دغوي د ډالرو په خدمت كي دي؛

اوس په خپله سوچ وكړئ چي په داسي حساس وخت كي د داسي الهي مقدس نظام ساتنه له موږ نه څه غواړي ؟

كه زموږ د كمپيوټر، ليزر وړانګو او اتوم ژبه زده نه وي، د ټينګ ايمان، تقوي، توكل، عزم، ثبات، اخلاص، هوښياري او ځيركتيا په ژبه به هرو مرو پوهيږو ټول فكر، او غم به ددغه مقدس امانت د ساتلو راسره وي، نو هله به الله تعالي مرسته راسره كوي او دغه مقدس امانت به زموږ عاجزانو په لاس باندي په خپل فضل او كرم سره ساتي او د نړي مظلوم، مستضعف او دي خوانه منتظر و مسلمانانو ته به د خلاصون او نجات سبب ګرزي، انشاء الله تعالي، او كه خداي دي نه كړي، بي پروايي وشي بيا نه يوازي ددغه امانت مسؤولين بلكي د نړي د ټولو مسلمانانو د هيلو كشتي به ډوبه شي، والعياذ بالله تعالي.

همه اندرز من بتو اينست · كه تو طفلي و خانه رنګينست

ربنا عليك توكلنا ...

پاسخ امير المؤمنين

حضرت عمر بن عبدالعزيز «رح» در پاسخ به نامه يكي از سرداران بزرګ لشكر (عمر بن وليد بن عبدالملك) كه از مال بيت المال حسب دلخواه خود استفاده غير شرعي نموده بود و بالاي رعايا از تشدد و ظلم و قدرت خانوادګي خود كار ميګرفت ، نوشت :« ... در حاليكه تو و خاندانت از بيت المال استفاده غير شرعي نموده و بيوه ، مسكين و صد ها ديګر مستحقين را از حق شان محروم كرده بوديد اګر من فرصت داشتم شما و خاندان شما را براه روشن مي آوردم .

مدت ها حق را ترك كرده ايد. اګر جايداد و املاك فروخته شما و آن قيمتي را كه اخذ كرده ايد بالاي يتيمان و مسكينان و بالاي بيوه ها كه حق ايشان در ګردن تان هنوز باقي مانده تقسيم ميكرديد هنوز هم كافي نبود از خاطر اينكه بالاي شما ايشان حق دارند.»

د ائتلاف سوغات

پتي پاڼې

شهرت ننګيال

وروستي باوري رپوټونه ښکاره‌ ګندوي چي پنجشير ته اتلس روسي پوځي ماهرين د ائتلاف د ملاتړلو لپاره رسيدلي دي او له احمد شاه مسعود سره يي پوځي تړون لاسليك كړي دي. دغه مشاورين چي د كولاب له هوايي لاري پنجشير ته رسيدلي له ځان سره يي بوه اندازه پوځي مهمات هم ليږدولي دي.

په همدغو ورځو كي داسي خبرونه هم خپاره شول چي احمد شاه مسعود له مسكو او نورو هيوادونو د پرچم ډلي، يو شمير مشران هم پنجشير ته بللي دي، مسعود په دغو مشرانو پسي خپل سلاكار داكتر عبدالله ليږلي ؤ چي پنجشير ته د هغوي د بلني او ليږدوني چاري تنظيم كړي چي يو شمير پوځي او نظامي افراد يي پنجشير ته رسيدلي او احمد شاه مسعود ته يي خپل طرحي، تجربي او پروګرامونه وړاندي كړي دي.

په نږدي ورځو كي په تخار او بدخشان كي سخته زلزله وشوه چي د سر او مال درانه زيانونه يي را منځ ته كړل.

په همدغو شيبو كي چي د تخار او بدخشان بيدفاع خلك د زلزلي له امله د اوښتو زيانونو له مخي لومړنيو مرستو ته زياته اړتيا درلوده او زخميان لا د نړيدلو كورونو تر كنډوالو لاندي په زګيروي وو د ائتلاف بريڅو نوي جګړي پيل كړي او له ولس سره يي د مرستي په چارو كي ته دا چي برخه وانه خيسته بلكي د سيمي بشري قوه يي جګړي ته سوق كړه او په محلي سطحه يي هم له زلزله ځپلو سره د مرستي مخه ونيوله .

بهرنيو مرستندويه ادارو بيله دي چي د سيمي د تاج او تخت مدعيان ورته لاس وركړي د مرستو لړي پيل كړه خو د ائتلاف مشران د اوراوو پيښو په لويه بوخت وو تر دي چي مرستندويه اداري مجبوري شوي چي د مرستو د ليږدولو له پاره له نورو هيوادونو چور لكي په كرايه ونيسي خو د ائتلاف هيڅ بوه چور لكه ونه

ليدل شوه چي د. مرستي په چارو كي دي برخه واخلي.

ائتلاف چي ددغو څو ولايتونو د واكمني دعوا كوي او همدا سيمه يي په اصطلاح د حكومت او امپراتوري پلازمينه ده خو په عملي توګه نشي كولي يا نه غواړي چي دغه خلك لږ تر لږه د مرګ له كومي راوباسي. په همدغو حالاتو كي چي د سيمي اوسيدونكي د مرګ او ژوند په كشمكش كي ووائتلاف پهلوانانو د جګړو او پر مختګونو خبري كولي او د مرګونو او ورانيو وياړني يي را مخي ته كولي.

استاد رباني د نيويارك مخه ونيوله، پداسي حال كي چي ددغي مصيبتونو په وخت مشران بهرني سفرونه لنډوي او خپل وطن ته ځانونه رسوي په اصطلاح جمهور رئيس تري امريكي ته چكر شو .

په همدغو شيبو كي پر كابل د راكټونو او توغنديو ګوزارونه د ائتلاف هغه سوغات ؤ چي پنجشير ته د روسي پوځي ماهرينو او پرچمي كمونستانو له ورتلو سره پر بيګناه كابليانو ولورول شو. پدي توګه روسان او د هغوي مزدوران د مسعود په وجود كي بيرته ژوندي او فعال شول او افغان مظلوم ولس يي د مرګونو او ورونو د ماتم پر تغر كيناوه، په پنجشير كي د روسي پوځي ماهرينو او پرچمي كمونستانو شتوالي دا خبره بيخي څرګنده كړه چي ائتلاف براځي د پرديو په اشارو او مرستو پايي او بس.

په كابل د ائتلاف راكټي بريدونه د روسي پوځي ماهرانو په وړاندي يو داسي نمايش ؤ چي هغوي وګوري او ډاډه شي چي راوړل شوي مهمات او وسلي يي په څومره اغيزمنه توګه استعماليږي او څرنګه پري د افغانانو كورونه ورانيږي، تر څو هغوي د سر په سترګو وګوري چي په افغانستان كي د دوي له خوا بل شوي اور لاموړ ندي او هماغسي ژيغړانده دي.

د ائتلاف څيري، نيتونه او عملونه نور په هيڅ پرده او نقاب كي نشي پټيبداي، د هري ورځي په تيريدو يي حقيقت او ماهيت نور هم بربنډ كيږي او له نوبو رسوائيو سره مخامخ كيږي چي وروستي عملونه د دوي وارخطايي او بشپړي ماتي ته پيدونكي بيلګي دي.

اعجاز يك گردن بند

از حضرت جابر بن عبدالله انصاري «رض» روايت مي كنم:

يكروز پس از نماز عصر، هنګاميكه پيامبر اكرم «ص» با صحابه خويش نشسته بودند، پير مردي با لباسهاي كهنه در كمال ضعف و سستي كه معلوم مي شد راه دوري را با ګرسنګي پيموده باشد وارد شد. عرض كرد : من مردي پريشان حالم، مرا از ګرسنګي و برهنګي و ګرفتاري نجات دهيد.

جناب رسول اكرم «ص» فرمود : اكنون چيزي موجود ندارم ولي ترا به كسي راهنمايي مي كنم كه اين حوايج ترا بر آورد و رهنمايي به نيكي همانند كسي است كه آنرا انجام داده است . برو بر در خانه كسي كه محبوب خدا و رسول اوست و او نيز دوستدار آنهاست.

پيامبر «ص» به حضرت بلال «رض» دستور داد تا پير مرد را به در خانه فاطمه «رض» رهنمايي كند. وقتي كه آن مرد به در خانه حضرت علي «ك» آمده و [illegible] گفت : سلام بر شما اي خاندان نبوت«ع» ، او را جواب سلام داده پرسيدند تو كيستي ؟

گفت : مردي هستم كه بخدمت پيامبر «ص» آمده و تقاضاي كمك نموده حضرت ايشان مرا بخانه شما رهنمايي كردند.

آروز سومين روزي بود [illegible] خانواده نبوت به ګرسنګي آنرا ګذرانده بودند و پيامبر «ص» نيز از جريان اطلاع داشت. دختر پيامبر اسلام (حضرت بي بي مطهره فاطمة الزهرا «رض») چون چيزي نمي يافت، پوست ګوسفندي كه فرزندانش حضرت امام حسن و امام حسين «رض» را بر روي آن [illegible] بالين به مرد عرب داده فرمود : اميد است خداوند «ج» ترا ګشايش عنايت نمايد.

پير مرد ګفت : دختر پيامبر «ص» ! من از ګرسنګي مي نالم شما پوست ګوسفندي بمن ميدهيد! اين سخن را كه حضرت فاطمه «رض» شنيد ګردن بندي كه به او هديه شده بود همان را به پير مرد داد .

مرد پير ګردن بند را ګرفت و به مسجد آورد. حضرت پيامبر «ص» را در ميان اصحاب نشسته ديد، عرض كرد : يا رسول الله «ص» اين ګردن بند را دختر ت به من داده و فرموده است آنرا بفروشم شايد خداوند«ج» ګشايشي دهد.

حضرت رسول اكرم «ص» ګريان شد و فرمود : چګونه خداوند ګشايشي نمي دهد با اينكه سردار بهترين زنان پيشينيان و آيندګان ګلوبند خود را بتو داده است !!

حضرت عمار ابن ياسر «رض» عرض كرد : اجازه است كه اين ګردن بند را بخرم !

حضرت محمد «ص» فرمودند : خريدار اين ګردنبند را خداوند بزرګ «ج» عذاب نمي كند.

صحابي جليل القدر حضرت عمار «رض» به آن شخص ګفت : چند ميفروشي ؟

پير مرد ګفت : به سير شدن از غذايي و يك پوشاك و ديناري كه صرف مصارف مخارج بازګشتم را تأمين نمايد. حضرت عمار «رض» فرمود : من به بهاي اين ګردن بند دو صد درهم ميدهدم و ترا از نان و ګوشت سير كرده و لباسي هم براي پوشاك ميدهدم و با شتر خود ترا به خانواده است ميرسانم.

حضرت عمار «رض» از غنايم غزوه خيبر هنوز مقداري را با خود داشت پير مرد را بخانه برده و به وعده خويش وفا كرد، آن مرد دو باره خدمت پيامبر «ص» بازګشت نموده و آن جناب «ص» فرمود : لباس ګرفتي و سير شدي ! پير مرد اعرابي عرض كرد : بلي بي نياز هم شدم .

حضرت عمار «رض» ګردن بند را به غلاميكه «سهم» نام داشت و ګفت خدمت پيامبر «ص» ببر، ترا هم به ايشان بخشيدم .

سردار عالم «ص» وي را (غلام مذكور را) با ګردن بند نزد بي بي فاطمه زهراء«رض» فرستادند، خاتون جنت د ختر فخر موجودات «ص» ګردن بند را ګرفت و غلام را آزاد كرد .

غلام خنديد، فاطمه مطهره «رض» از سبب خنده اش سوال كرد غلام ګفت : از بركت اين ګردن بند مي خندم كه ګرسنه يي را سير و مستمندي را بي نياز و برهنه اي را با لباس و بنده يي را آزاد كرد و بالاخره بدست صاحب اصل خود بازګشت .

په زمکه کي ننوتل ډير بهتر دي لدي نه چي د زمکي پر مخ د دوي مقابله وشي

(ژباړه: محمد حسن حالم)

حضرت عروه «رض» فرمايي چي د يرموك د جنګ په ورځ كله چي دواړه لښكري (روميان او مسلمانان) يو بل ته نږدي شوي، نو رومي جنرال قيقلار د جاسوسي لپاره مسلمانانو ته يو عربي سړي ورولېږه. او هغه ته يي ووېل چي په دغه خلقو كي ننوزه او يوه ورځ او يوه شپه پكي و اوسه، او چي بيرته راغلي نو ماته به حالات بيان كړي.

حضرت عروه «رض» وايي چي ماته معلومه شوه چي دغه عربي سړي د خضاعه قبيلي دير شاخ تزيد بن حيدان ځخه وو ځكه چي په ابن هزادف سره مشهور وو. هغه په مسلمانانو كي ننوت ځرنګه چي دي هم عربي وو نو په دغو خلقو كي پردي نه معلوميده يوه ورځ او يوه شپه يي د مسلمانانو په منځ كي تيره كړي دي د مسلمانانو د حالت له ليدلو وروسته بيرته واپس راغي قيقلار وورځخه وپوښتل چي څه دي وليدل! هغه ووېل دغه خلق د شپي عبادت كوي او ورځ د آسونو په شا باندي تيروي كه چيرته د دوي د بادشاه زوي غلا وكړي نو لاس يي غوڅيږي او كه زنا وكړي نو سنګساريږي، دوي په خپله جامعه كي حق قايموي.

ددي خبرو د اوريدو ځخه وروسته قيقلار ووېل چي كه چيري تا ماته ريښتيا ويلي دي نو په زمكه كي ننوتل ډير بهتر دي لدي نه چي د زمكي په مخ د دوي مقابله وشي

او زه د زړه له كومي نه دا غواړم چي لوي خداي«ج» زما دوسره عرض واوري چي د جنګ په ډګر ما او دوي سره پريږدي او خپله ميدان ته رانشي. نه زما مدد وكړي او نه د دوي مدد وكړي، دا رنګه به د فتحي او ماتي فيصله د افرادو او جنګي امكاناتو په زياتوالي باندي اړه ولري او هغه له موږ سره تر دوي ډير دي.

نو معني دا چي كله امت مسلمه په عمل ولاړ او الهي قانون يي د زمكي پر مخ پلي كړي وو نو كفارو ته هم دا يقين وو چي د خداي نصرت له دوي سره دي نو بيا په خپل افرادي قوت او ډيرو جنګي امكاناتو هم باوره وي او خپل شكست ورته حتمي ښكاري نو موږ ته د ظاهري امكاناتو سره په ځنګ كي د معنوي امكاناتو برابرول هم لازم دي. چي دا معنوي امكانات هغه الهي احكام دي چي د خپل خوږ رسول الله «ص» په واسطه يي موږ ته رارسولي دي. او هم د هغه په طريقه يي سرته رسوو .

نبوي مرغلري

د ايمان له خونده هغه څوك ګټه اخيستي شي چي د خداي«ج» په ربوبيت او د اسلام په دين او د حضرت محمد «ص» په رسالت خوښ وي.

* * *

هغه څوك چي په خپله سوړ او ګاونډي يې په تنګ کي وږي وي کامل مسلمان نه دي.

* * *

څوك چي د امانت مراعات نه کوي کامل مؤمن نه دي همدغه راز څوك چي په خپله وعده وفا نه کوي د دين خاوند نه دي.

* * *

څوك له تاسو ځخه کامل مؤمن نه شي کيداي تر څو هغه شي چي د ځان لپاره خوښوي هغه د خپل ورور لپاره خوښ کړي.

* * *

کامل مسلمان هغه دي چي بل مسلمان د هغه د ژبي او لاس له ضرره ځخه په امن او بي غمه وي.

* * *

هر څوك چي په خداي«ج» او د آخرت په سخته ورځ ايمان لري بايد خپل ګاونډي ته ضرر و نه رسوي، د خپله ميلمه احترام دي وکړي، او کله چي خبري کوي نو د حق او د عامه خير او مصلحت خبر دي وکړي او که چوپتيا دي اختيار کړي.

* * *

هغه شي چي خپل ځان ته خوښوي نو رونه يې هم خوښ کړي چي کامل مؤمن و اوسي. له ګاونډيانو سره ښه رويه کوي چي کامل مسلمان و اوسي.

############

مقدس ترينه کلمه : الله «ج»
بهترينه کلمه : حق
مقدس ترين کتاب : قرآن عظيم الشان
پاك ترينه کلمه : وجدان
محبوب ترينه کلمه : وطن
عاليترينه کلمه : آزادي
خوږه ترينه کلمه : مور
ښايسته ترينه کلمه : مينه
جذابترينه کلمه : وفا
عزيزترينه کلمه : جهاد
سپك ترينه کلمه : دروغ
ترخه ترينه کلمه : نا حقه تور لګول.

ليږونکي : س . سلطانخيل

د هنر او ادب نړۍ

چي کشور د افغانانو معطر کا
د هر بيت مصرع مي زلفي د خوبان کړي

ترجيع بند و ترکيب بند

آن نوع نظم را گويند که از يك سلسله غزلهاي مختلف القافيه و متحد الوزن تشکيل يافته باشند. آنچه اين بند ها را از يکديگر جدا ميکند بيت مقفي است که در آخر هر بند مي آيد. اين بيت مقفي با ابيات پيش در وزن يکي و در قافيه مختلف ميباشد پس اگر اين بيت مقفي در فاصله بيت ها عيناً تکرار شود تمام منظومه را ترجيع بند و بيت فاصله را بند ترجيع با بند گردان نامند و اگر ابيات فواصل با يکديگر فرق داشته باشند آن منظومه را ترکيب بند و بيت فاصله را بند ترکيب خوانند.

په اسلام کي د شعر او شاعر مقام

قاضي محمد حسن «حقيار»

(لومړي برخه)

شاعر د بشري ټولني لپاره د مينې او محبت استازي دي، د شاعر دنده دا ده چي د انساني ټولني د وګړو تر منځ د نفرت، کينې، حسد او بدبيني ديوالونه ونړوي. شعر د عاطفي، لطافت، ظرافت او نزاکت دويم نوم دي. حماسيت که د شعر زيږنده ده نو د سربښندني تومنه هم شعر دي، که روحانيون، عارفان او صوفيان خپل سلوك، وجد او جذب د شعر د وريښمين کمال مرهون ګڼي نو شعر د اخلاقي تلقين مهمه منبع هم ګڼلاي شو.

که له سادي وسايلو پرته ژوند ناشوني ښکاري نو له معنويت او ادب نه هم استغنا ممکنه نه ده. ځو مره چي د اسلام په هنداره کي د شعر د منځ د روڼوالي او تتوالي پوري اړه لري نو په لنډه توګه سړي ويلاي شي چي د شعر د اصلي غرض او پيغام او د اسلام د هغو اساسو او اصولو تر منځ چي اسلام يې مقدس و مکره بولي بو ډېر نږدي محسوس تړاو ليدل کيږي ځکه چي اسلام هم د انسانانو تر منځ د مينې، الفت او انس توغ پورته کړي دي او شاعر هم همدا انساني او اسلامي پيغام زمزمه کوي او که شاعر کوم ځاي کي د حماسيت تراني غږوي نو اسلام هم د خير او اصلاح لپاره جګړه ضرور بولي نو بيا ګرد سره دا سوال نه مطرح کيږي چي ګويا د اسلام او شعر تر منځ واټن ليدل کيږي.

البته له هر شي او له هري وسلي نه چي په سو او ناوړو ځايونو کي کار اخيستل ممکن دي. همدا راز شاعرانه استعداد او دا الهي پيرزوينه هم هر ډول استعماليدلاي شي. خو دا هيڅکله په دي نه شي تعبيريدلاي چي ګويا شعر په خپل ذات کي د غندني وړ دي د بيلګي په ډول د انسان ژبه که د خداي د ياد او د انسانانو د خير او ښيګڼي لپاره کارول کيږي نو د ګناه او په نورو ناوړو ځايونو کي هم بي اغيزي نه ده نو که شعر په دي بهانه محاکمه کيږي نو بيا خو په خوله کي د ژبي حتي د نورو غړو ساتل هم په کار نه دي.

ځرنګه چي الله «ج» انسان ته د ښو او ناوړو کارونو د تر سره کولو توان او اختيار ورکړي دي خو امر يې ورته کړي دي چي ښه کارونه کوه او له بدو ځان ساته د نيکو کارونو په بدل کي د عوض او د بدو کارونو په بدل دا جزا، همدا راز اسلام شاعران هم په دوه ډلو ويشلي دي او د موضوع د اهميت او حساسيت په پام کي نيولو سره يې له دوي سره د سخت وعد او وعيد ژمنه وکړه چي نيك شاعر ته ډاډ ورکړل شو چي جبريل دي مرستندوي دي او بد شاعر ته وويل شو، چي ګيډه دي له زويو ډکه کړه دا درنه ښه ده خو له شعر نه يې مه ډکوه

علامه الوسي بغدادي وايي چي: ټولو خلفاوو شعرونه ويلي دي. دي وايي چي د عبدالمطلب په کورني (ښځو او نارينه وو) کي له رسول الله «ص» نه پرته داسي څوك نه وو چي شعر يې نه وي ويلي ... بيلا بيلو ځايونو کي شعر ويلي دي، او د قيس زوي روايت کوي چي ما له حضرت جندب «رض» نه اوريدلي دي چي يوه ورځ رسول الله «ص» جهاد ته روان و چي نا څاپه يې ګوته له تيږي سره ولګيدله، نو ويې ويل:

هل انت الا اصبع دميت
و في سبيل الله ما لقيت

دا بيت په وزن او تول پوره او پوولس سيلابه لري. همدا راز د سيرت په کتابونو کي راغلي دي چي کله کفارو د احزابو په غزوه کي د مديني منوري د محاصري پلان جوړ کړ نو رسول الله «ص» د صحابه وو په مشوره له مديني منوري نه د يو خندق را تاوولو تصميم ونيوه چي دي مبارك په خپل نفس نفيس هم ددي خندق په کيندلو ... بوخت و او د خندق کيندلو په جريان کي يې دا بيت زمزمه کاوه.

اللهم لا خير الا خير الاخرة
فاغفر الانصار والمهاجرة

همدا راز د حنين په غزوه کي کله چي مسلمانان د کفارو له خوا له نسبي ماتي سره مخ شول او رسول الله «ص» په ډګر کي يوازي پاتي شو. نو رسول الله «ص» په لوړ اواز وويل چي:

انا نبي لا کذب
انا ابن عبدالمطلب

کله چي رسول الله «ص» مديني منوري ته مهاجر شو نو مديني ته په رسيدلو يې دروند استقبال وشو چي په هر کلي ويونکو کي يوه ډله ځواني نجونې هم وې دوي په لوړ آواز دا شعر وايه چي:

طلع البدر علينا من ثنيات الوداع
وجب الشکر علينا ما دعا لله داع

رسول الله «ص» د يو شاعر شعر ته د اصدق الکلمه (ډيره رښتوني وينا) خطاب وکړ ابو هريره «رض» روايت کوي چي رسول الله «ص» وفرمايل: ډيره رښتوني خبره چي شاعر کړيده د لبيد دا وينا ده:

واورئ! له الله پرته هر څه باطل دي او نږدي ده چي اميه ابن الصلت د خپلو ښو شعرونو په سبب مسلمان شي.

